مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لَونگی جبارخیل

۲۰۲۱/۰۲/۲۶

# ښکلې لار، ښکلی ژوند

هېروه مې، هېروه مې څو دې توان وي
که ته خوښ يې دا کار وکړه څو دې ځان وي

زه دې غواړم، زما هيله ستا خوښي ده
که ته «هو» کړې، يو به زړه يو به فرمان وي

کړو به جوړه دنياګۍ ښکلې د مينې
دوه مو زړونه، يو کورګی، يو به ارمان وي

ډيوه بله به د مينې کور کې ساتو
دوه به موږه، دوه به ښکلي پتنګان وي

يو روان به د ژوند پای پورې په مينه
دواړه سترګې او کاته به دې درمان وي

که دا وشول په همدې ځای جنتي يو
ښکلې لار، ښکلی مو ژوند، ښکلی جهان وي

رقيبان دې لرې، لرې له موږ ګرځي
که نږدې شول دوی به خپله پښيمان وي

۲۰۲۱/۰۱/۱۸





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ